**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د سوچي په کنفرانس مه غولېږئ**




**(ژباړه)**

د روسيې د بهرنيو چارو وزارت ويلي و چې د ۲۰۱۷م د نومبر په ۱۸مه به د سوريې د قضيې د حل لپاره په سوچې کې کنفرانس تر سره شي. د سوريې مخالفو ډلو او همدارنګه دې مستورا د دغه کنفرانس له ګډون څخه مخ واړوه. مسکو اړ شو چې د ۳۳ خيالي ډلو پر دعوت سره د کنفرانس نېټه وځنډوي. له اعلان وروسته امريکا واضح ګواښ وکړ چې مسکو په يوازېتوب نشي کولی د سوريې قضيه کې اصلاحات راولي. کله چې د امريکا ګواښ روسيې ته ورسېد، د اوپيک د کنفرانس په حاشيه کې چې د ۲۰۱۷م نومبر په ۱۱مه تر سره شو، لاوروف څرګنده کړه چې کنفرانس تر نامعلوم وخت پورې وځنډېد. د همدې لپاره لاوروف او تيلرسون په ګډه مرکه کې ټينګار وکړ، چې د سوريې د سياسي بحران د اصلاحاتو لپاره يوازينی سرچينه د امنيت شورا پرېکړه ليک او د ژينو د کنفرانس هوډونه دي او روسيه نشي کولی په يوازېتوب د سوريې بحران حل کړي.

د کنفرانس له جوړولو څخه موخه دا وه چې پوتين غواړي د ۲۰۱۸م مارچ د ۱۸مې په ټاکنو کې ځان کانديد کړي او ويې غوښتل چې د دغه کنفرانس په جوړولو سره د سوريې په قضيه کې خپله بريا وښيي؛ څکه له دې اړخه ډېر تر پوښتنې لاندې راغلی. په همدغه دليل د ۲۰۱۷م نومبر په ۲۲مه پوتين د ترکيې له ولسمشر رجب طيب اردوغان سره په کتنه کې د سوريې د قضيې د سياسي حللارې

پر مسله پرېکړه وکړه؛ لکه څنګه چې د روسيې د اتحاديې د نړيوالو چارو کمېټې لومړي مرستيال ولاديمير جباروف اعلان کړه: «د سوچي په کنفرانس کې به د سوريې د قضيې په اړه  واحد او ځانګړي دريځ ته د رسېدلو  لپاره د ملګرو ملتونو په اختياراتو سره توافق ته ورسېږو.» همدارنګه مسکو له ايران او ترکيې سره په همغږۍ د سوچي د کنفرانس پر بريا خوښ دي. په دې اړه د روسيې د بهرنيو چارو د وزير مرستيال ميخائيل بوګرانوف په ۲۰۱۷م د دسمبر په ۲۳مه داسې وويل: «د سوريې د ملي خبرو اترو کنګره چې د ۲۰۱۸م اکتوبر په وروستيو کې به ترسره شي موږ به د اساسي قانون د کمېټې د جوړېښت شاهد وو.» خبرې يې دې ته اشاره کوي چې د کنفرانس ټولو اساسات به د ترکيې او ايران په مشوره تر سره شي.

د ۲۰۱۷م دسمبر په ۲۷مه د سوريې په چارو کې د روسيې ځانګړي استازي الکس اندر لافرينګوف وويل چې د سوريې په حللاره کې د قضيې اوږدېدلو ته اړتيا نه وه او بايد ډېر ژر په سوچي کې د سوريې د ملي خبرو اترو کنګره پيل شي. دا ډول دريځ ښيي چې پوتين غواړي ډېر ژر په سوريه کې مداخله وکړي.

د روسيې دريځ ټرمپ اړ کړ چې خپلې اساسي موخې داسې واضح کړي: «هغه واشنګتن دی چې د سوريې د چارو  په اړه هوډ نيسي، نه بل څوک.» په همدې موخه د ۲۰۱۸م جنوري په ۱۱مه د امريکا د بهرنيو چارو وزير ريکس تيلرسون د استانفور په پوهنتون، خپلو خبرو کې د سوريې په اړه د خپل هېواد ټولېزه موخې واضح کړې، هغه په خپلو خبرو کې د پانتاګون د بيانيې هوډ ته چې په کردي سيمو کې د امريکا د ۳۰ زره نظامي عسکرو اډې جوړوي، اشاره وکړه، چې له داعش سره د جګړې په موخه به هلته پاتې شې (سرچينه: ميادين ټلويزيون)

د ۲۰۱۸م د جنوري په ۲۳مه د پاريس د کنفرانس په حاشيه کې چې په سوريه کې له کيمياوي وسلو څخه د ګټې اخستنې او د داسې عمل د ترسره کوونکو د محاسبې په اړه بحث وشو؛ امريکا، انګليس، فرانسې سعودي او اردن د هغې پاڼې پر اساس اقرار وکړ چې دوه اونۍ مخکې امريکا ترتيب کړې وه. دغه پاڼه چې په ۲۰۱۸م د جنوري په ۲۵مه د ويانا په ناسته کې جوړه شوې وه، د اجرا کولو لپاره يې دی ميستورا ته وړاندې شوه. دغې پاڼې ډېرې د حللارې وړاندې کړې وې، لکه: د انتقالي حکومت جوړول، د اساسي قانون ليکل او د ټاکنو د قانون جوړول، د ولسمشر او نوي حکومت صلاحيتونه او د ملګرو ملتونو تر نظارت لاندې د امنيتي دستګاه د بيا رغولو اړتيا. په دې معنا چې د سوريې چارې د ملګرو ملتونو په سرپرستۍ مخکې ځي؛ که لږ نيوکې نه وي، اعلان به شي چې د سوريې سرپرستي په مستقيم ډول امريکا په غاړه اخلي. نو د امريکا دا ډول دريځ، د سوچي د کنفرانس د اجنداوو بريا ښکاروي.

امريکا ونه غوښتل چې د پوتين فضا خرابه کړي، ځکه يې د سوچي کنفرانس ته اجازه ورکړه، ترڅو د پوتين د ملګرو فضا نوره هم ښه شي، همدارنګه يې وغوښتل چې کنفراس د دی مستورا په حضور کې پيل شي، په داسې حال چې هغه په لومړۍ جلسه کې نه و. د منځني ختيځ ورځپاڼې په نقل، د سوچي په کنفرانس کې « د اساسي قانون د جوړولو لپاره د کمېټې جوړول، د سرچينو تشخيص، عملي برنامه او د غړو د ټاکلو څرنګوالی او د ملګرو ملتونو تر نظر لاندې د ژينو د کنفرانس د چارو پر  پلې کولو بحث وشو. کنفرانس د عامې او بې مفهومه بيانيې په وړاندې کولو پای ته ورسېد چې په وروستۍ بيانيه کې يې داسې راغلي و: « ټول د اساسي

قانون د کميسيون په جوړولو پرېکړې ته رسېدلي يو، د ۲۲۵۴ پرېکړه ليک پر بنسټ به د ملګرو ملتونو تر نظر لاندې د اساسي قانون د اصلاحاتو او د سوريې د کړکېچ د حل په موخه به يوه ډله د سوريې د عربي جمهوري دولت په استازيتوب او يوه ډله به د مخالفانو په استازيتوب جوړې شي.»

وروستۍ بيانيې، د ملګرو ملتونو په رول، د سوريې په دولت، محاکمې او د بشر حقوق د ناقضينو، د کيمياوي وسلو د ګټه اخيستونو او په سوريه کې د بيګانه امنيتي ځواکونو پر حضور هېڅ بحث ونه کړ. هغه څه چې په دغه کنفرانس کې جالب دي، هېڅ څوک نه پوهېږي چې ۱۳۰۰ ګډونکوونکو څنګه په وروستۍ بيانيې بحث او خبرې وکړې؛ لکه څنګه چې د ۲۰۱۷م په نومبر کې د روسيې د بهرنيو چارو وزير بګدانوف مخکې وړاندوينه کړې وه، چې هغوی د دې بيانيې له لاسليک کولو پرته بل څه ونه کړل.

مخالفانو ددې لپاره چې ولې يې د سوري دولت بيرغ په کنفرانس کې پورته نه کړه، عجيب کارونه تر سره کړل، کنفرانس ته ورنه غلل او د خپل استازيتوب صلاحيت يې ترکيې ته ورکړ. د دې لپاره يې دغه قضيه د سوريې حياتي قضيه وګڼله ترڅو پر هغو جرمونو سترګې پټې کړي چې د ژينو په کنفرانس کې يې کړي وو،، خو وروستۍ بيانيې د هغوی دروغ او نفاق داسې بلره کړل، چې ترکيې د اساسي قانون د کمېټې د استازيتوب په توګه د مخالفانو له ډلې ۵۰ تنه داسې معرفي کړل: د وروستۍ بيانيې پر بنسټ، په سوچي کې د سوريې ملي خبرې اترې، د اساسي قانون کمېټه به له ۱۵۰ تنو جوړه وي، چې ۵۰ تنه به يې د ترکيې له ډلې او درې نورې ډلې به يې د قاهرې پر تيبيون، مسکو او رياض پور اړوندې وي.

هغه څه چې د بشر په تاريخ کې څرګند دي، سياسي مناقشې برعکس بريا ناکامو‌ي او ناکامي بريالۍ کوي. د سوچي په کنفرانس کې د وروستۍ بيانيې خطرناک مواد، د اساسي قانون د کمېټې تاسيس ده، چې بحرام ته يې سياسي حللارې وړاندې کړې؛ خو په دې حللارو کې د توی شو وينو،کيمياوي وسلو کارونکو او لسګونه نور هوايي بريدونه چې انسانان يې له خطر سره مخ کړي وو، هېڅ يادونه ونه شوه.

په پای کې اساسې پوښتنه دا ده: اسلامي امت څه وخت خپله اراده د استعماري ځواکونو له منګلو ازادوي؟ هغه استعمارګران چې تل په کمين کې دي ترڅو موږ ته ضرر راورسوي او د اسلامي خاورو د چارواکو لکه: د تهران ملايان، د قدس واکمنان، په انقره کې د ارطغرل د سيرت حمل کوونکو او د د ډالرو په مقابل کې د پلورل شو ډلو په مرسته، د استانې د کنفرانس هوډونه کله د ترکيې او کله په مستقيم ډول پلې کوي؛ د اسلامي امت پر ضد پلان طرحه کوي.

**ډاکتر عثمان بخاش**

**د حزب التحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر رييس**

**۱۴۳۹هـ.ق، د جمادي الاول ۲۱**

**۲۰۱۸م، د فبروري ۷مه**

**له الرايه جريدې څخه اخيستل شوې**

ژباړن: علي عمار